# ملي ځواکونه دهېواد دساتنې اتلان

دکب نهمه، دهېواد دملي ځواکونو داتلولیو او سرښندنو د ورځې په ویاړ نومول شوې، دیادې ورځې دلمانځنې ارزښت داده، چې کله دافغانستان ویاړلي ملي اتل غازي امان الله خان د انګریزانو څخه دخپلواکۍ دګټلو اعلام وکړ، نو دکب نهمه چې دملي ځواکونو دبریاوو او سرښندنو د ورځې په توګه یاده کړه.
په دې اساس دکب نهمه دملي اتلانو دویاړنې ورځ په ټول هېواد کې دشاندارو غونډو او محفلونو په جوړولو سره لمانځل او ملي سرتیري دګلونو په ګېډیو او ستاینلیکونو باندې نازول کیږي.
داځکه چې افغان ملي ځواکونه دهېواد څخه پوره ملاتړي او تل هڅه کوي، چې خپله خاوره له یرغلګرو څخه ساتي، افغان ملي ځواک دښمن ته اجازه نه ورکوي، چې دهېوادوالو دځورونې او ربړونې او دهېواد دویجاړیو سبب وګرزي، بلکې ملي اتلان غواړي، چې زموږ دهېوادوالو ژوند په امن کې خوندي کړي، نو ددوی مسؤلیت همدا ده، چې ولس ته آرام او هوسا ژوند ورپه برخه کړي.
کوم مسؤلیتونه، چې دهېواد ملي او دفاعي ځواکونه له ځانه یې لري، ولس ته هم ګوتنوی کیږي، چې له خپلو ملي امنیتي ځواکونو ملاتړي وکړي، څو دهېواد دښمنانو ته داجوته شي، چې افغان ولس دخپلو سرتیرو ننګه او دفاع په میړانې سره کوي.
یاده ورځ؛ چې دکب نهمه دملي امنیتي سرتیرو داتلولیو په نوم نومول شوې، نو د دوی ویاړنو او سرښندنو ته پوره درناوی وشي. په هېواد کې هره ورځ دملي سرتیرو له سرښندنو یادونه او درناوي ته اړتیا لیدل کیږي، ځکه دهېواد سرتیري په دې سختو جنګي اوبحراني شرایطو کې دندې ترسره کوي.
د دولت له مسؤلیتونو څخه یو هم دملي سرتیرو لپاره امتیازي زمینه برابرول دي، چې ورسره د دوی ستونزې حل او ملي پوځ لاوهڅول شي، چې دهېوادوالو او د وطن په وړاندې خپلې مبارزې څنګه چې ټینګښت لري، نورې هم ټینګې کړي.
د دولت لوړپوړو مشرانو ته د ویلوخبره ده، چې دامنیت خوندیتوب لپاره امنیتي ځواکونو ته دې پوره امکانات په لاس کې ورکړي، دهېواد په لرو پرتو سیمو کې چې دملي سرتیرو امنیتي پوستې شته دي، درسنیو له لارې چې دملي ځواکونو شکایتونه آوریدل کیږي، باید په وخت ورته رسیدنه وکړي. کله چې د دښمن له مقاومت سره مخ کیږي، په بیړه دخپلو شته وو امکاناتو سره تازه دمې سرتیري دمرستې لپاره واستول شي او هم په لاسته راوړنو کې د دوی لپاره مادي او معنوي امتیازاتو ته پاملرنه وکړي.
دنظام په تشکیلاتي سیستم کې بدلون په داسې بڼه راتلای شي، چې دواسطو او نورو لارو مخنیوی دې په جدي اوقانوني ډول وشي، دپوځي رتبو چې اوس دهېواد په امنیتي ارګانونو کې ځینې چارواکو ته ورکول کیږي، بې له کومو لاسته راوړنو او په وظیفوي چارو کې کوم نوښت له ځانه ونه لري، دغو کړنو ته دپای ټکی کېښودل او هغه سرتیري چې په لرو ځایونو کې په دندو ګمارل شوي، باید له نورو سره یو شان چلند غوره شي.
دملي ځواکونو مادي اړخونو ته ډېره اړتیا لیدل کیږي، دملي ځواکونو په معاشاتو کې زیاتوالی، د دندو په مهال ورته لازم د اړتیا وړ توکي او همدارنګه کورونو ته د رخصت اخیستو دتګ اوبیرته ورتګ آسانتیاوې په نظر کې ونیول شي.



د دولت له مهمو کړنو، چې یو هم ملي ځواکونو لپاره د استوګن ځایونه اویا ښار ګوټي ورته جوړ کړي، ترڅو دخپلو کورنیو ترڅنګ په هوساینې سره ژوند وکړي. دملي سرتیرو دشهیدانو پاتې کورنۍ دې له یاده ونه باسي هره میاشت دې ورسره مرستې او کوم حقوق چې په قانوني ډول یې لري ورکړل شي.
دملي ځواکونو ټپیان چې د ډېرو ټپونو له امله دردیږي، د درملنې لپاره بهرنیو هېوادونو ته دې واستول شي، څو درملنه یې وشي.
دملي پوځ دلاپیاوړتیا په موخه اکاډمۍ روزنیز مرکزونه دې په وسایلو سمبال او دمسلک ټولو ځانګو ته دې نورهم وده ورکړل شي او په منظم ډول دامنیتي ځواکونو لپاره روزنیز پروګرامونه په لار واچوي.
نو لازمه ده، چې دافغان سرتیرو روزنیز مرکزونه او نور لازم امکانات چې ورته اړتیا لیدل کیږي، په ښه توګه برابر اودیادو مرکزونو فعالیتونه نور هم پراخ کړي، ترڅو افغان امنیتي سرتیري په خپلو چارو کې غښتلي او بریالي واوسي اود دښمن په وړاندې له خپلې خاورې په کلکه توګه دفاع او ساتنه وکړي.
دامنیتي نظام په وده کې اړونده اداري لکه ملي دفاع، کورنیو چارو او ملي امنیت چې مسؤلې اداري دي، له بهر څخه جنګي وسایل او عسکري لوازم وپیري، ترڅو ملي ځواک دیرغلګرو په وړاندې پیاوړي وواسي، ځکه نوموړي اداري دحکومت په چوکاټ کې مهم او دهېواد دځمکنۍ بشپړتیا او په ساتنه کې رغنده مسؤلیت لرونکي دي.
همدارنګه ملي ځواکونو ته هم یادونه کیږي، چې د دندې پرمخ وړلو پر مهال له ناوړه کړنو ګټه پورته نه کړي، بلکې له هېوادوالو سره ښه او نیک چلند وکړي، دجګړې په مهال له اسیرانو سره ناوړه چلند ونه شي، دکورنو دتلاشۍ په مهال دعسکري اصولو سره سم داجازې پرته کورونو ته داخل نه شي، څو دکور څښتن دهدایت سره سم کورته ورننوځي. بې ځایه خلک ونه ځوروي او و لس په وړاندې ستونزې جوړې نه کړي، دهېوادوالو ملي، مذهبي اوشخصي ګټو ته زیان ونه رسوي، څو ولس د ملي سرتیرو له کړنو رضایت ولري.
ولس هم باید خپلو سرتیرو سره یوځای ودریږي او ورڅخه بشپړ ملاتړي وکړي او یو ځای دسولې په راوستو او دامنیت په ټینګښت کې اوچت او غښتلي ګامونه واخلي، ترڅو دښمن ته دولس او ملي ځواک یوالي څرګند شي، چې دافغانانو ترمنځ نفاق اچول او دیو بل ببلول ناشونې کار دی.
دملي ځواکونو یوازینۍ موخه په هېواد کې داډمنه سوله راوستل، ورانکارو او ویره اچونکو کسانو مخه نیول، دامنیت تامینول او دپردیو یرغلګرو په وړاندې دربدل دي، چې ولس باید، دخپلو ملي اتلانو پوره همکاري وکړي، نو دابه موږ ملي ځواکونو ته روحیه ورکړي وي، چې تاسو نه یوازې یاستئ، بلکې په هر ډګر کې هېوادوال درسره دي!

**ژوندي دې وي زموږ ملي اتلان!**

## لوګر پېژندنه / لوګرشناسی

**موږ سره مرسته وکړئ، چې ستاسو کلی هم در وپیژنو!**

# التمور

التمور د لوګر جنوب ته پنځه ویشت کیلو متري کې پرته سیمه ده، چې لوګر له پکتیا سره بېلوي.

**جغرافیا یي موقیعت :**

التمور تر ډېره هسکو غرونو پوښلې سیمه ده، ځمکه یې د بیلابیلو غلو دانو کرکېلې ته مناسبه ده، هوا یې موسمي ده او د ځمکې د خړوبولو لپاره کامیابه ځمکنۍ چینې او کاریزونه لري.
د غلو دانو له جملې پکې، غنم، جوار، اوربشې، لوبیا او کچالو ښه وده کوي.
انګور، مڼې، بادام، زردالو، الوچې د میوو له هغو ډولونو دي چې یاده سیمه کې یې حاصلات په زړه پورې دي.

**قومونه :**

التمور سیمه کې مېشتې کورنۍ تر ډېره د احمدزیو له قوم څخه دي، خروټي، نیازي، او ځینو نورو قومونو پورې تړلي خلک هم پکې ژوند کوي.

**نفوس:**

التمور سیمه کې دوه زره کورنۍ ژوند کوي.

**ورځني مصروفیتونه او عمده عواید:**

د التمور یوه برخه خلک پر کرکیلې مصروف دي؛ خو ډېری ځوانان یې بهرنیو هیوادونو کې د مسافرۍ شپې ورځې سبا کوي او هلته په بیلابیلو کارونو بوخت دي.

**خدمات :**

التمور یوه متوسطه، دوه لومړني ښوونځي او یو روغتیایي مرکزلري.

**پراختیایي چارې:**

دا چې یاده سیمه له بشپړ امنیت څخه برخمنه ده، په دې وروستیو کې یې پراختیایي چارې ګړندۍ شوې او له امله یې د یادې سیمې اوبه په بشپړ ډول مهار شوي دي.
همدا ډول التمور سیمه د تګ را تګ لپاره مناسب سړک او ډاډمن امنیت لري.

**زده کړې :**

یاده سیمه کې دیني زده کړې له پخوا منظمې او د یادونې وړ وې، وروستۍ لسیزه کې عصري زده کړو هم د پام وړ ځای نیولی او د التمور ځوانان د هیواد او نړۍ پر بیلابیلو معتبرو پوهنتونونو کې زده کړې کوي.



**کلتور:** التمور سیمه په بشپړ ډول پښتني دودونه لري، د ځینو ستونزو حل، مهمې پرېکړې او قومي مسائل پکې د مخورو سپینږیرو له خوا حل کیږي.

**وروستي پرمختګونه:**

ورستیو دوو کلونو کې التمور سیمه د هر اړخیز پرمختګ شاهد ده، د ځوانانو ټولنه پکې ایجاد شوه، تعلیمي مرکزونه جوړ شول، خصوصي ښوونځیو ته له درې سوه ډیر زده کوونکي ولېږل شول، مخابراتي شبکو منظم فعالیت پیل کړ، دیني مدرسې جوړې شوې او عامه پوهاوی ډیر شو.

**ستونزې:**

التمور سیمه د نجونو لپاره هیڅ ډول تعلیمي امکانات نه لري، له ګڼ نفوس او ډاډمن امنیت سره سره، د زده کونکو لپاره لیسه شتون نه لري او د روغتیایي مرکز په ګډون د ټولو دولتي نهادونو کیفیت یې خراب دی.

**رالیږونکی: حفیظ الله «امین»**

# ساحه تاریخی وتفریحی بند سرخاب

درحدود صد سال قبل درست در زمانی حکومت شاه امان الله خان در سال ۱۲۹۹ سنگ تهداب ساخت بند سرخاب گذاشته شد ، اما کار ساخت آن بسیار آهسته به پیش می رفت و بار دوم درسال ۱۳۰۹ کار ساخت وساز آن دوباره آغاز شد ودر سال ۱۳۱۴ به پایه اکمال رسید.
بند سرخاب در منطقه رییس جمهور داکتر محمد اشرف غنی موقعیت دارد که داشتن مناظر طبیعی، درختان بادام، توت، زردالو... برای سیاحت وتفریح یک مکان مناسب آنرا مبدل نموده است .



کلیپ ویدیویی را در مورد زیبایی های بند سرخاب از صفحه اجتماعی ریاست اطلاعات وفرهنگ مشاهده نمایند ونیز لایک صفحه را فراموش نکنند.

# زندگینامه خلص الحاج محمدظاهر«صدیقی»

الحاج محمدظاهر صدیقی مجاهد فرزند شهید امیر محمدصدیقی درسال 1324 خورشیدي درقریه نوشهر چرخ ولایت لوگر دریک خانواده مسلمان، باتقوا و کارگر متولد شده است.درسال 1331 درمکتب ابتداییه مولانایعقوب چرخی شامل و درسال 1337 امتحان کانکور مکتب متوسطه ابن سینا شامل گردیده، درسال 1340 از آن فارغ و به دافغانستان بانک اشغال وظیفه نموده است.
درسال 1349 از آن به ولایت لوگر بحیث نماینده وزارت اطلاعات وفرهنگ و آمر خبرنگار ریاست عمومی آژانس باختر تقرر گردیده و دراخیر سال 1358 خورشیدی به صفوف مجاهدین ملحق گردید و درتنظیم جمعیت اسلامی افغانستان بحیث آمر جبهه سیار حضرت ابوبکرصدیق (رض) و مسول قرارگاه کوتل یکپایه تقرر واین وظایف را به حسن صورت ، با تحمل خسارات جانی ومالی به یاری خداوند متعال به فرجام رسانیده و دراخیر برج عقرب سال 1380 خورشیدی بحیث نخستین رییس اطلاعات وفرهنگ ولایت لوگر تقرر حاصل کرده است و درسال 1388 خورشیدی به تقاعد سوق شده است. صدیقی شاعر ونویسنده خوب است که درمشاعره های ملی به سطح کشور شعر خوانی نموده است. برای صدیقی عمر طویل آرزو مندیم.



### در وصف لوگر

**اینجا که من به شعر ثنا خوان لوگرم**
**از روی عشق دل واله و حیران لوگرم**
**چون در محیط آن به یقین گنجهاست**
**زانروبه ذوق دشت و بیابان لوگرم**
**با این نهفته ها که بسا در نهاد اوست**
**خروار نعره گوست که من بامیان لوگرم**
**با این همه غنایم پوشیده از نظر**
**خواهان بازسازی و عمران لوگرم**
**چون درضمیرما همه شوق عبادت است**
**من دوستدار مساجد و آذان لوگرم**
**می کنم من تعریف وتوصیف لوگر زمین**
**به یاد سجاوند وعینک باستان لوگرم**
**لوگر بود سر زمین پاک و باب الجهاد**
**من عاشق مجاهدین قهرمان لوگرم**
**بود لوگر زادگاه بندگان دین وطن**
**من خوشدار مجاهدین و غازیان لوگرم**
**صدیقی دارد عشق لوگر رادر سر همی**
**گوید که من شاعر شیرین زبان لوگرم**

**الحاج محمد ظاهر «صدیقی»**




**عبدالاحمد فیضی**



بهترین سخن گویان و یاران، کتاب است و آن گاه که دوستان تنهایت نهند ، می توانی به آن سرگرم شوی. اگر او را هم راز خویش قرار دهی، راز تو را فاش نمی کند و با کتاب است که می توان به دانش و نیکی ها دست یافت .

**Torab Hekmat Lodin**



یو بل ته په پېغور ورکولو هیڅ هم نه ترلاسه کیږي، پرته له کرکې او عُقدې نه ! نو راځئ په ګډه سولې ته کار وکړو.

**Naqibahmad Faizakbari**



جوانان عزیزگرامی ! شمانیروی اصلی این مملکت راتشکیل میدهید برای بازسازی وپیروزی این سرزمین دراین مقطع اساس کشورخودرا به همه جهان نشان دهید که درافغانستان هم جوانان نیرومند وبا احساس وجوددارد که بخاطردین مقدس اسلام وتمامی ارزشهای آن خاک ووطن خویش آماده هستند که جانهای شیرین خویش رافدا کنند تا دراین سرزمین شیران حکومت اسلامی وصلح دایمی قایم گردد به امید پیروزی وسربلندی مردم شریف ومجاهد پرورافغانستان .

**Ata Mohammad Miakhel**




ژوند ډېر آسانه او ساده دی، په پنځو عبارتونو کې خلاصه کېږي؛ چې هغه د انسان د ژوند رازونه دي:
ـ انسان باید وکولای شي، چې خپلې تېروتنې او غلطۍ ووینې، ترڅو وکولای شي، ووایي: خواشینی یم .
ـ انسان باید د دې زوړرتیا ولري، ترڅو وکولای شي ووایي: ما وبښه .
ـ انسان باید مینه ولري، ترڅو وکولای شي ووایي: درسره مینه لرم .
ـ انسان باید په خپلو نعمتونو باندې شکر کوونکی وي، ترڅو وکولای شي ووایي: منندوی یم یا مننه کوم.
ـ په پای کې انسان باید په څلورو عبارتونو کې په نغښتونو رازونو باندې پوه شي، ترڅو وکولای شي، په بشپړه توګه د خپل ژوند مسؤولیت ومني.

## ورکشاپ صلح وحل منازعات اجتماعی ...

محمد انورخان اسحاقزی والی لوگرعامل بدبختی ها را درکشورجنگ عنوان کرد وگفت که جوانان به شکل واقع بینانه عمل کنند و ازجوانان خواست که برای تامین صلح تلاش نمایند.
عبدالرحمن تسل رییس اطلاعات وفرهنگ می گوید که ریاست اطلاعات وفرهنگ درتلاش آن است تا برای حل منازعات اجتماعی وتامین صلح با راه اندازی همچون پروگرام ها ، نقش موثرایفاء نماید.
شاملین ورکشاپ آموزشی وعده کردند که درحل منازعات اجتماعی کارخواهند کرد ، ورکشاپ یاد شده ازسوی مرکزآموزشی لنکن ریاست اطلاعات وفرهنگ راه اندازی گردیده بود ودراخیرتصدیق نامه ها توزیع گردید. باختر

## د لوګر یوه اوسېدونکي خپله ځمکه ...

ویل کېږي چې د روان کال په بهیر کې د لوګر خلکو خپله څه ناڅه د ېرش جریبه شخصي ځمکه ښوونځیو ته د ودانیو جوړولو لپاره د پوهنې په واک کې ورکړې ده .

## دوصد وده تن ازمرکز آموزشی حرفوی...

که هشتاد درصد فارغین دوره های گذشته اکنون مصروف کار میباشند.
محمدانورخان اسحاقزی والی لوگر دربرنامه که بدین مناسبت دایرگردیده بود به زنان شاملین این مرکز وعده داد که درقسمت کاریابی آنان تلاش خواهد کرد و درشهرپل علم برای آنها زمینه کار را فراهم خواهد نمود.